# نړیوال بانک

**خبري خپرونه نمبر**:2006/SAR

اړیکي: *په کابل کې*: عبدالروف ضیاء 80800 702 (93)
بریښنالیک :azia@worldbank.org
په واشنگټن کې: اریك نورا *(202) 458 4735*
بریښنا لیک: enora@worldbank.org

## د نړیوال بانک د راپور خبر له مخي، په افغانستان کې د مرستو اغیزمنتیا او مالي پسمنظر لا زیاتې پاملرنې ته اړتیا لري

**واشنگټن، د جنوری د میاشتې ۲۴مه نیټه** – د نړیوال بانک نوی راپور چې نن خپور شو، خبرورکوي چې په ناموزونه توگه په کوچنیو ټوټو باندي د بهرنیو مرستو ویشل کیدنه د افغانستان د دولت حساب ورکول او ظرفیت تر اغیزې لاندې راولي.

د افغانستان د مطالعې په پام کې نیولو سره: د عامه مالي اداري د ودې په اړوند د بهرنیو مرستو څه ناخه په څلورو کې درې برخې د دولت له بودجې څخه بهر انتقال مومي، چې دا به په خپله اوږد مهاله مالي پلان جوړوني ته کلک خنډونه رامنځ ته کړي.

راپور د افغانستان مسائل د لندن په کنفرانس کې، چې د روان کال د جنوری په ۳۱مه نیټه جوړیږي مطرح کړي او په تمویل کوونکو هیوادونو باندې یې ټینگار کړی چې خپلې لا زیاتې مرستې د دولتی چینلونو له لیارې دغه هیواد ته راولیږي، تر څو د دولت مالي ټنکښت تامین او د هیواد له اوږد مهاله پرمختگ څخه ملاتړ و شي. همدارنگه راپور ټینگار کوي چې د افغانستان دولت بایدخپل فعالیتونه د بودجې د کیفیت د ښه والي او اجرااتو په برخه کې، چې په هغه کې د مالي معیارونو پیاوړي کول هم شامل دي، گړندي کړي.

دغه راپور چې په افغانستان کې د مالي عامه اداري چینلونه تحلیلوي او اجرااتی اجندا وړاندې کوي، وایي چې: اصلاح شوې او اغیزمنې مرستې د دولت او تمویل کوونکو هیوادونو تر منځ ژور گډون غواړي. راپور زیاتوي چې په کوچنیو ټوټو باندی ویشل شوې پروژې چې د دولت له سیستم څخه زیاتي دي د تمویل کوونکوهیوادونو له مالي وجهو څخه استفاده کوي، دغه ډول پروژې غیر اقتصادي او د دولت په ظرفیت باندي یو درونډ پیټی دی. د پروژو څخه د ساده څارنې ستونزه چې د هغه په ترڅ کې کوم کنترول نه تر سره کیږي او ډیر لږ معلومات د هغوی په هکله لاس ته راځي، د دولت پر ظرفیت باندې یې زور اچولی او دهغه واکمني له منځه وړي.

لنډه دا چې راپور داسې څرگندونه کوي چې د مرستو د اړیکو د ودې لپاره په افغانستان کې د مرستو استول پرته له دولت څخه د نورو چینلونو له لیارې اغیزناکه طریقه نه ده.

ښاغلي الستیر میک چینې، په افغانستان کې د نړیوال بانک د مرکزی دفتر ډایرکټر داسې وویل: تجربې ښیي چې د دولتی چینلونو له لیارې د مرستو استول ډیر زیات اقتصادي وي. د بیلگې په توگه، که چیرې د روغتیایي خدمتونو د مرستې قرارداد د دولتي چینلونو څخه پرته ترسره شي، نو دغه ډول قرارداد د هغو قراردادونو په پرتله چې د حکومت له لیارې د سالمه سیالۍ پربنسټ ترسره کیږي ٪۵۰ گران بیه وي. برسیره پردې، د دولت اعتبار په بهرنیو خدمتونو کې د خپل ځواک د ښودلو په اړه زیاتیږي، او په پایله کې د خلکو او نوي ټاکل شوي پارلمان په وړاندې کولای شي چې حساب ورکړي.

راپور له دولتي چینلونو څخه د استفادې پرګټو باندې ټینګار کوي، لکه څنګه چې د غه ډول ګټې د افغانستان د بیاودانولو په صندوق کې، چې زیاترهً ملکی عادي بودجې تمویلوي بڼودل شوي دي. ښاغلي ژان مازورل، د افغانستان لپاره د مرکزي دفتر منیجر داسې وویل: د افغانستان د بیاودانولو په صندوق وړاندوینې شوې مالي وجهې برابروي او دولت په دې توانوي، ترڅو خپلې لومړنۍ اړتیاوې لکه: د ښوونکو او ډاکټرانو د معاشونو ورکړه برابره کړي.

راپور د دې خبرې پخلی هم کوي چې د بودجې بهیر باید د ملي پالیسۍ او ریفورم لپاره یوه مهمه وسیله وي. د دولت د دغه مهم هدف د ترلاسه کولو لپاره، او دا چې د ډیرو مالي وجهو راتګ د دولتي چینلونو له لیارې و هڅول شي، نو د بودجې په ټولو برخو کې لازمه ده چې زیات اصلاحات رامینځته شي، تر څو د پاملرنې وړ پرمختګونه، لکه څنګه چې په راپور کې مستند شوي، ترسره شي. ټاکل شوی پارلمان اړتیا لري چې په دغه اړه، په ځانګړې توګه د کلنۍ بودجې تصویب او د هغه د ممیزۍ ،لکه څنګه چې د افغانستان په اساسي قانون کې یادونه شوې څارنه وکړي.

راپور د دې خبرې پخلی کوي که چیري له بودجې څخه سمه ګټه واخیستل شي، نو د اداري فساد په وړاندې به افغانستان زیانمن کیدنه کمه شي.
همدارنګه راپور په دې خبر ټینګار کوي چې د عامه مالي ادارې د سیستم او نورو وقایوي اقداماتو په برخه کې اصلاحات نه یوازې دا چې د ځانګړو دوسیو د څیړنې او څارنې په برخه کې پاملرنه کوي، بلکه په دغه اړه ډیر غوځ اهمیت هم لري.

په داسې حال کې چې هیواد له جګړې نه وروسته شرایطو سره مخامخ دی، خو افغانستان په دې لاندې برخو کې د پاملرنې وړ پرمختګ کړی دی، لکه: د اقتصاد چټکه وده، په بیساري توګه په لمړنیو ښوونځیو کې د شمولیت زیاتوالی، د مهمو سړکونو او لویو لارو بیارغونه، با ثباته نوې پیسې او د جمهوري ریاست او پارلمان ټولټاکنې. مالي دسیپلین په بیساري توګه د دولت د اجرت د بل د کنترول له لیارې پیاوړی او خوندي ساتل شوی دی. همدارنګه، حکومت د مالي روڼوالي او حساب ورکولو په برخه کې غښتلې ژمنه کړې ده چې په پایله کې یې د مالي اجراآتو اصلاحات رامنځ ته شوي.

تر اوس مهاله ډیر ستونزي لا په خپل ځای پاتې دي: د بیلګې په توګه عامه لګښتونه ډیر زیات دي (د ۲۰۰۴/۰۵ م کاله پورې د کورنیو کرنیزمحصولاتو تر ۵۷٪ پورې). کورني عایدات د کورنیو کرنیز محصولاتو ۵٪ جوړوي چې د نړۍ په کچه ډیر لږ عایدات دي او یوازې د هیواد د عادي لګښتونو او د هغو سیمو د لګښتونو څلورمه برخه برابروي چې د دولت تر کنترول لاندې نه دي. د نړیوال بانک راپور خبر ورکوي که چیري عامه لګښتونه د قابل د تادیې تر حدودو پورې ونه ساتل شي ، نو ناوړې پایلې به رامنځ ته کړي. که چیرته یوشمیر زیاتې مرستې د داخلي کاري ظرفیت او د کورنیو لږو عایداتو سره یوځای شي، نو کولای شي چې لګښتونه برابر کړي.

ښاغلي ستیفن ګومبرت، د نړیوال بانک د اقتصاد متخصص او د راپور مسئول مدیر داسې وویل: د افغانستان پرمختګ د په یو اغیزناکه او پر ځان بسیا مالي سیستم په رامنځ ته کیدو پورې اړه لري. په داسې حال کې چې نړیوالې مرستې د افغانستان لپاره داسې فرصتونه برابروي چې تر څو د ملي بودجې محدویتونه لرې کړي، خو د یوه منځ مهاله نظري چوکاټ لپاره اړتیا شته، ترڅو دا خبره ډاډمنه شي چې هیواد د مالي باثباته او ټنګ حالت په لور درومي.

په ځانګړې توګه، ښاغلی ګومبرت یادونه وکړه چې د کورنیو عایداتو چټکه وده د افغانستان مالي ثبات په لورې د پرمختګ اصلي ستنې جوړوي. مالي ثبات خواته د پرمختګ لپاره راپور څلور مهمې موضوع ګانې طرحه کوي:

1. د کورنيو عايداتو د چټکې ودې دوام: د دې لپاره چې په راتلونکې لسيزه کې د عادي لګښتونو او عايداتو سطحه برابره شي، نو عايدات بايد د لګښتونو په پرتله په چټکه توګه وده ومومي – او د عايداتو د ودې چټکتيا بايد د لګښتونو د ودې په پرتله لږ ترلږه دوه ځلې زياته وي.
2. په منځ مهاله ريښتيني پلان کې د لګښتونو هراړخيزه شموليت،
3. د دې خبرې پخلی چې د هغو لګښتونو لپاره د پيسو ورکړه چې د عامه پانګه اچوونکو او نورولګښتيزو پريکړو له خوا رامنځ ته شوي وي د ورکړې وړ وي.
4. دمالي ټينګښت د معادلې سره د هغو عادي لګښتونو يوځای کول کوم چې نيغ په نيغه د تمويل کوونکو هيوادونو له خوا د بهرنۍ بودجې (هغوی چې امنيتی سکتور پورې اړه لري) له لياري تمويليږي، او په زياتيدونکې توګه د دغو لګښتونو راوستل د ملي بودجې چينلونو ته.

ښاغلي ويليم بايرد، په نړيوال بانک کې د اقتصاد(کارپوه) متخصص او د راپور مسئول مدير داسې وويل: د عامه مالي اداري د سيستم وروستۍ پايله دا ده چې خدمتونه تر سره شي. دغه خبره د عامه لګښتونو په اړوند د پايلو تر لاسه کولو لپاره ډيره ضروري ده او په دغه اړه د دولت د اعتبار او قانونيت لپاره ډيره زياته مهمه ده. ښاغلي بايرد زياته کړه چې د حکومت لپاره لاژمه نه ده چې ټول عامه خدمتونه په خپله برابر کړي.

راپور وايي چې پرته له څو ځايونو څخه، عامه خدمتونه په ډيرو سکتورونو کې نا برابر دي، له دې امله، د عامه خدمتونو لپاره لاژمه ده چې پايلې ترلاسه کړي، د دغې خبرې لپاره د سالمه مؤسساتو شته والی، د حساب ورکولو اړيکې او د خدمت کوونکو لپاره د هڅونکو معاشونو او د با ثباته مالي وجهې شته والی ډير اړين بريښي.
په يوشمير سکتورونو کې پرمختګ شوی دی. په لومړنۍ ښوونه او روزنه کې د خدمتونو د ترسره کولو دوديزه طريقه، چې نيغ په نيغه د حکومت (د دولت ټاکل شوي ښوونکي) له خوا ترسره کيږي د شموليت د زياتوالي سبب ګرځيدلې، خو د خدمتونو د کيفيت او اغيز په اړه لاتر اوسه هم انديښنې شته دي. د روغتيا په سکتور کې د نادولتي موسسو له لياري د سالمه سيالۍ پربنسټ د خدمتونو د تر سره کولو نوښت د روغتيايي خدمتونو د ښه والي په برخه کې يو لړ مثبتې پايلې منځ ته راوړې.خوبيا هم، په دغه برخه کې زيات پرمختګ ته اړتيا شته، ترڅو روغتيايي خدمتونه په اغيزناک ډول ټولو افغانانو ته ترسره شي.

لنډه دا چې راپور د کاري ظرفيت د ودې په هراړخيزه مسئله باندې ټينګار کوي. د حکومت کاري ظرفيت د منځ مهاله نظري پلان د ودې، د مالي ستندردونو او معيارونو د رامنځ ته کولو، د کورنيو عايداتو د زياتوالي او د خدمتونو په ترسره کولو کې اړين او ضروري بريښي. د کاري ظرفيت د رامنځ ته کيدولپاره لاژمه ده چې ډير ښه مرکزونه يا ارګانونه، روښانه قوانين، سالمه پاليسي ګانې، با استعداده خلک او اغيزناکه موسسې موجودې وي. څرنګه چې راپور استدلال کوي، د دولت لاربښوونه اوملي سيستمونه د کاري ظرفيت د رامنځ ته کيدو لپاره مهمه برخې جوړوي.

راپور او د هغه اړونده مواد وروسته د منعې د مودې د پای څخه سمدلاسه په دغه ويبسايت کې ترلاسه کيدای شي.
خبريالان دې ته هڅول کيږي چې د دغو موادو څخه په خپلوراپورونو کې استفاده وکړي. http://web.worldbank.org/sar

په افغانستان کې د نړيوال بانک د فعاليتونو په هکله د د لازياتو معلوماتو لپاره دغه ويبسايت ته مراجعه وکړئ.
http://web.worldbank.org/af